(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| معشوقه چي حجاب واخلي | | ترو عاشق به نزدېکت کا |
| آواز ښه واړه د يو دئ | | کهي قهر که رحمت کا |
| چي په زمکه په آسمان دي | | د يوه مولا صفت کا |
| په هر صورت سامع پوهېږي | | او سرود يې زيات لذت کا |
| عارفان به پرې خوښېږي | | کم دليل ځني وحشت کا |
| هر واصل چي يګانه شي | | نندار به د وحدت کا |
| په يوه کي دويم نشته | | نه زياتی نه کمامت کا |

اوس نزدې دغه مضمون ته د حضرت سنايي له ملکوتي ارغنونه دا نغمه واورئ، چي په څه قوت او سلاست او پوخوالي په فضا کي انګازې اچوي :

| | | |
|---|---|---|
| ممقدسی که قديمست از صفات کمال | | نزهی که جليلست بر نعوت جلال |
| هر آنکه شربت سبحانی و اناالحق خورد | | به تيغ غيرت او کشته در هزار قتال |
| زآهوان طريقت هر آنکه شير آمد | | نهاده است به پايش هزارگونه شکال |
| زما زم ملکوتش کند دلم چون خون | | مراست جام وصالش هميشه مالامال |
| بنغمه های مز امير عشق او مستم | | شراب وصلش دايم مرا شدست حلال |

(ديوان سنايي ۱۹۲ مخ)

اوس دغه مطالب د روښان پير د بل شاګرد يعني ارزاني خويشکي څخه هم واورئ، چي د زرم هجري کال په شاوخوا کي ژوندی دئ، دی وايي:

| | | |
|---|---|---|
| د اثبات په کور دننه | | د احد ډېوه کړه بله |
| ستا زړه جام جهان نما دئ | | او وې کاږه له بغله |
| يو څراغ دئ چي بلېږي | | پوشيده دئ له احوله |
| د دغه څراغ رڼا ده | | تر اعلی هم تر اسفله |
| چي منصور په سر د دار دئ | | د انا لول يې ښيله |
| بايزيد سبحاني ولوست | | د خپل زړه له هيکله؟ |
| د ملا پر کتاب نشته | | د رندانو له عمله |
| د کامل تخته ده پاکه | | د دې غير له امله |

همدغه مضمون ته ورته مضمون دمخه عراقي په داسي ښکلو او خوږو الفاظو په شاعرانه مهارت بيان کړی و :

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د عاشق په نظر ګوري | | د محبوب د مخ جمال دئ |
| توري زلفي يې خورې کړې | | پر سپين مخ يې ايښی خال دئ |
| ګهي سرو د چمن شي | | بيا جنبش يې پر خپل حال دئ |
| ګه بلبل خوش الحان شي | | ګه طوطي شېرين مقال دئ |
| توري سترګي يې مکحولي | | هم يې قد په اعتدال دئ |
| بيا عجب يې کړې وروځي | | چي تشبيه يې په هلال دئ |
| درست مجلس يې په مې مست که | | څه عجب ساقي کلال (؟) دئ |
| موجودات يې برګ بر شه | | د وحدت د باغ نهال دئ |
| ګهي ساز ګهي يې مات کا | | دی د کل بانډو کلال دئ |
| ساتندوی د زنده سرو | | د جمله حيوانو ګوال دئ |
| د اسلام په لوړه وخوت | | بانګ يې وواية بلال دئ |
| مقلد پکښې بندي شو | | دا تقليد بې مثله جال دئ |
| چي له دې دامه بېرون شو | | پر هغه ديدن حلال دئ |
| دا ديدن به هغه کاندي | | هر چي تېر تر سر و مال دئ |
| چي يې آئينه شوه رنګه | | پر هغه ديدن محال دئ |
| ذميمه اوصاف به څو که | | هر چي حميده خصال دئ |
| له بدئ به تل پرهېز که | | چي پسنديده افعال دئ |
| کريمداد دا بيان کښلی | | په زر شپږ پنځوسم کال دئ |
| يادګاري يې ده پرې ايښې | | بيان کړی يې خپل حال دئ |
| هر چي راشي پر دا دنيا | | عاقبت يې ارتحال دئ |

**د کريمداد بنګښ د قصايدو هنري خوا :**

کريمداد کله د قصيده سرايانو پر سنت برابر اول د بهار د مناظرو تشبيب لري، او بيا خپلو عرفاني او تلقيني مطالبو ته تخلص او ګرېز کوي، او دلته نو سړی دا مني چي زموږ د پښتو ادبياتو کړۍ د لوی افغانستان په سلسلة الذهب پوري نښلي، او هغه رنګه مطالب چي سنايي پخپلو عرفاني او اخلاقي قصيدو کي ځای کړي وو، دکريمداد په کلام کي هم هغسي ښکاري، لکه دا قصيده :

تشبيب

| | | |
|---|---|---|
| ښه نسيم چي زېری راوړی له بهاره | | عندليب مي په فغان شه تر ګلزاره |
| په وصال يې د ګل ډېره خوښي وشوه | | چي په ځان يې محنت وښکاو له خاره |
| په چمن يې له ګلبانګه شراشور که | | په هر هر نفس يې ذوق دئ له دلداره |
| د نيسان او رو مدد ورسره وکه | | په هر لور ګلونو وتړل قطاره |
| مست بلبل لکه خليل پکي جاروزي | | د نمرود اور شه څرګند له لاله زاره |
| د لاله پياله له سرو شرابو پر شوه | | نرګس سترګي کړې ور پورته له خماره |
| څه راحت به له ژوندونه که په بخره | | چي په هسي ښه موسم ګرزې بې ياره |

